امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۹ الی ۲۴ میزان ۱۴۰۴



## شماره یکصدو بیست و ششم

### د پېښو چارو د همغږۍ معین د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی او زابل ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۸ نېټه کندهار ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د کندهار ولایت له والی، محترم الحاج ملا محمد شیرین آخند سره د دې ولایت...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې د غونډو په تالار کی د دې ادارې په ګډون د بیلابیلو ادارو کارکونکو ته د آغاخان پراختیایی شبکی لخوا یو ورځنۍ ورکشاپ ورکړل سو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د غونډو په تالار کی د دې ادارې په ګډون د بیلابیلو ادارو کارکونکو ته د آغاخان پراختیایی شبکې لخوا د شیک اوټ تر عنوان لاندی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر...

ادامه در صفحه ۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې د زلزلې د تحلیل او ارزونې په اړه تخنیکی غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس؛ محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د لارښوونې له مخې، یو شمېر د ادارې د داخل او له ادارې څخه بهر د زلزلې کارپوهانو، د پوهنتون استادانو او انجینرانو د دې...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ تر منځ د لټون او ژغورنې ټیمونو د جوړېدو د څرنګوالي په اړه تخنیکی غونډه وشوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ تر منځ، د دې ادارې لپاره د لټون او ژغورنې د ټیمونو جوړېدو د څرنګوالي په اړه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۱ نېټه تخنیکی ناسته د یاد بنسټ...

ادامه در صفحه ۳

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

## د پېښو چارو د همغږۍ معین د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی او زابل ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۸ نېټه کندهار ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د کندهار ولایت له والی، محترم الحاج ملا محمد شیرین آخند سره د دې ولایت له پېښو د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم حاجی قاری عبدالسلام عمری په شتون کې وکتل. دغه ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش تعقیبول، د ماین پاکۍ، د نشراتی چارو او همدارنګه د موجودو ستونزو او وړاندیزونو اورېدنه یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړي.

وروسته د کندهار محترم والی صاحب، د زیانمنو په برخه کې د یادې ادارې له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنېدو ته په اشارې سره وویل چې د کندهار خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دی او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لري.

په پای کې محترم والی صاحب له دې بهیر څخه د خوښی په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې د غونډو په تالار کی د دې ادارې په ګډون د بیلابیلو ادارو کارکونکو ته د آغاخان پراختیایی شبکی لخوا یو ورځنۍ ورکشاپ ورکړل سو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د غونډو په تالار کی د دې ادارې په ګډون د بیلابیلو ادارو کارکونکو ته د آغاخان پراختیایی شبکې لخوا د شیک اوټ تر عنوان لاندی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه یو ورځنۍ ورکشاپ ورکړل سو.

د غونډې په پیل کی د دې ادارې د کارکونکو چارو رئیس مولوی محمد عابد نعمانی وویل چې دا یو مهم ورکشاپ دی او پر ټولو لازمه ده چې زده یې کړو او تر نورو یې ورسوی.

ورسته ټولو کارکونکو ته د آغاخان پراختیایی شبکې د مسلکی استادانو لخوا عملی او نظری درسونه وړاندی سول او ټولو کارکونکو ژمنه وکړه چې دابه په ښه ډول زدکوی او تر نورو به یې رسوی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې د زلزلې د تحلیل او ارزونې په اړه تخنیکي غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس؛ محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، یو شمېر د ادارې د داخل او له ادارې څخه بهر د زلزلې کارپوهانو، د پوهنتون استادانو او انجینرانو د دې ادارې په انګړ کې د زلزلې د تحلیل او ارزونې په موخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه تخنیکي ناسته ترسره کړه.

یاده غونډه، چې د اطلاعاتو او نشراتو ریاست تر چتر لاندې ترسر شوه د نړیوالو اړیکو ریاست آمر؛ محترم برهان الدین شینواری، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د زلزلې کارپوه؛ محترم انجنیر سروالدین، د دې ادارې مشاور؛ محترم انجنیر حسیب الله، د اکاډمی علومو کارپوهانو؛ محترم عبدالوهاب، محترم احمد امید افضلی، د کابل پوهنتون استاد؛ محترم نور آقا شریفی، او یو شمېر نورو د زلزلې کارپوهانو شتون درلود ترسره شوه.

په پیل کې، محترم شینواری راغلو میلمنو ته ښه راغلاست ووېل او د زلزلې کار پوه محترم انجنیر سروالدین د غونډې د اجنډا په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې افغانستان یو له هغه هېوادونو څخه دی کوم چې د زلزلې له امله ډېر اغېزمن کېږي، نو له دې امله باید دا موضوع له هر اړخه وڅېړل شي.

ورپسې، راغلو کارپوهانو هر یو په خپل وار سره په افغانستان کې د زلزلې له امله د ډېرو اغېزمنو سیمو، د زلزلې د پلیټونو او د زلزلې د شدت له امله د هېواد د زونونو د تقسیم بندی په اړه خپل معلومات وړاندې کړل او په یاده برخه کې یې د کار کولو او د وسایلو د برابرولو د ارزښت په اړه خبرې وکړې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ تر منځ د لټون او ژغورنې ټیمونو د جوړېدو د څرنګوالي په اړه تخنیکي غونډه وشوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ تر منځ، د دې ادارې لپاره د لټون او ژغورنې د ټیمونو جوړېدو د څرنګوالی په اړه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۱ نېټه تخنیکي ناسته د یاد بنسټ په مرکزی دفتر کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د ادارې له لوری د بېړنیو عملیاتو د مرکز رئیس، محترم قاری خوشحال زمانی، د بېړنیو پېښو آمر، محترم مولوی عبدالهادی همت، د دفتر چارو د انسجام آمر، محترم مولوی عبدالرب مبارک او د بهرنیو اړیکو آمر، محترم برهان الدین شینواری او د آغا خان بنسټ له لوری د اضطراری پلان او غبرګون د برخې مسوول, محترم محمد نظر جویا، حقوقی سلاکار, محترم عصمت الله عصمتی او د اضطراری برخې کارکوونکو ګډون درلود.

په ناسته کې دواړو خواوو د ټیمونو د جوړښت، د اړینو وسایلو او تجهیزاتو برابرولو، د ټیمونو د غړو د مسلکی روزنې، او د ګډې همغږۍ میکانیزمونو او د پېښو پر مهال د ژغورنې او عملیاتو د ټیمونو تخنیکي وړتیاوو پیاوړې کولو په اړه مفصل بحث وکړ.

په پای کې دواړو لوریو د دوامدارو همکاریو او د بېړنیو حالاتو په وړاندې د چمتووالی او همغږیو منظمو تخنیکي ناستو د ترسره کولو پر اړتیا ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري اوونیزه اداری غونډه د دې اداري د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې اداري په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۱۹۶ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع گردید




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ، در هماهنگی با مقام محترم ولایت و ریاست انکشاف و بازسازی روستاها، برای ۱۹۵ خانواده مستحق و یک خانواده آسیب‌دیده از آتش‌سوزی در نواحی مختلف شهر مزارشریف، پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۲ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسئولان، در مجموع ۲۰۴ بوری گندم (هر بوری ۵۰ کیلوگرم)، ۱۹۶ کارتن آش مگی، ۱۹۶ کارتن بیسکویت و ۹۸۰ کیلوگرام شکر توزیع گردید.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د میشن ایسټ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هکړه لیک له مخې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په چال، اشکمش او فرخار ولسوالیو کې د طبیعی پېښو له امله ۲۰۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۸ نېټه د لومړی پړاو نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۳،۳۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره څلور میلیونه او شپږ سوه او شپیته زره (۴،۶۶۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## برای ورثه ۴۷۵ شهید، مجروح و متضرر ناشی از زلزله اخیر در ولایت کنر کمک غذایی و غیر غذایی توزیع شد

کمیته مشترک ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و ریاست کار و امور اجتماعی ولایت کنر، با حمایت کمیته هالند، برای ورثه ۴۷۵ ورثه شهید، مجروح و متضرر ناشی از زلزله اخیر در دره دیوه گل ولسوالی حوکی بتاریخ ۱۸ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت غذایی و غیر غذایی توزیع کرد.

در این روند برای هر خانواده مقدار ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج، ۵ لیتر روغن، ۵ کیلو بوره، ۵ کیلو لوبیا و ۳ تخته کمپل توزیع شد.



## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د ګیزاب ولسوالۍ په جلیزو دره کې د طبیعي پېښو له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۸ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم او ۴ کلچې صابون ووېشل شول.



## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۶ کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت له ولایت مقام او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې ریاست سره په همغږۍ، د دې ولایت د مزارشریف ښار په بېلابېلو ناحیو کې ۲۳٦ مستحقو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۹ نېټه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې ۲۳٦ کورنیو ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲٦۰ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲۲۷ کارتنه آش مګی، ۲۲٦ کارتنه بیسکویټ او ۱۱۳۵ کیلو مالګه ووېشل شوه.



## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۱۰ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د میمنه ښار په بېلابېلو ناحیو کې ۴۱۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۹ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوری ۵۰ کیلویی غنم او یوه بوری ۵۰ کیلویی وریجې ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو پر وخت سره د یادو مرستو د ترلاسه کولو په پار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې څخه مننه او نورو مرستو غوښتنه وکړه او همداراز د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس اړمنو کورنیو ته د پر وخت رسېدنې ډاډ ورکړ.

## کشف و خنثی‌سازی مواد انفجاری در ولسوالی بند چک ولایت میدان وردک




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک با همکاری مؤسسه ماین پاکی ایریا توسط تیم QRT-۰۴، در قریه‌های مدد و کاکاخیلو ولسوالی بند چک، یک حلقه ماین نوع بشکه‌ای سرجاده و یک فیر هاوان را بتاریخ ۱۸ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌صورت مصوون خنثی نمودند.
شایان ذکر است که ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک از مردم محلی خواسته است که در صورت مشاهده هر نوع شی مشکوک یا انفجاری، فوراً با مسؤولین ذی‌ربط تماس برقرار نمایند تا اقدامات لازم برای خنثی‌سازی انجام شود.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د درېیو استنادي دیوالونو د جوړولو چارې پیل کړې

د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لویو رئیس؛ الحاج ملانورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د دې ولایت د برکي برک ولسوالۍ په درې الف شاه خیل، تګاب کهنه او شیخان مهمند کلیو کې د استنادي دیوالونو د جوړولو چارې د اته سوه او اته پنځوس زره او نه سوه او شپږ اتیا اعشاریه پنځه (۸۵۸،۹۸۶.۵) افغانیو په لګښت سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱۹ نېټه پیل کړې.




د یادو استنادي دیوالونو د پرانیستې مراسمو کې، د دې ولایت د محترم والي مرستیال، د برکي برک ولسوالۍ محترم ولسوال، د کلیو او ښار جوړونې مسؤلینو او سیمه ییزو وګړو شتون درلود، چې چارې یې په الف شاه خیل کلي کې د ۱۰۶ مترو په اوږدوالي او ۳.۳۰ مترو لوړوالي، په تګاب کهنه کلي کې د ۳۵ مترو په اوږدوالي او ۲.۷۰ مترو په لوړوالي او همدارنګه په شیخان مهمند کلي کې د ۳۱ مترو په اږدوالي او ۲.۱۰ مترو په لوړوالي سره د الهام بهزاد ساختماني شرکت له لوري پیل شوې.
د یادونې وړ ده، چې د یادو استنادي دیوالونو په جوړولو سره د سیمې اوسېدونکي د سېلابونو د راوتلو له احتمالي زیانونو څخه خوندي شي.

## په لوګر ولایت کې یو شمېر ناچاودوه توکی کشف او خنثی کړل شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د هیلو ترسټ ماین پاکۍ نړیوالې مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې له تخنیکی ټیم سره په همغږۍ، د دې ولایت مرکز کې یو شمېر چاودېدونکې توکی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۰ نېټه کشف او په خوندی توګه له منځه یوړل.

د دې عملیاتو په پایله کې، ۱۵۰ ګرامه چاودېدونکی توکی، ۴ کاره اتش بازې پټاقۍ او ۴ متره فلته ثانیه سوز، چې د خلکو اوسېدونکو ژوند یې له احتمالی ګواښ سره مخ کړی وو کشف او خنثی کړل.

## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵۷ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ( AYSO ) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د دره پیچ ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۴۵۷ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۰ نېټه د خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتونکې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیټره غوړی، ۴ کیلو دال او ۰.۵ کیلو مالګه ووېشل شوه.

د یادونې وړه ده، چې یادې مرستې به په راتلونکی کې هم یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شی.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان کار ساخت یک پل کیبلی را در ولسوالی علینگار را آغاز کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان کار ساخت پل کیبلی برخان بابا که به طول ۱۰۰ متر و ۱.۶۰ سانتی متر و با هزینه‌ی چهار میلیون و صد هزار (۴,۱۰۰,۰۰۰) افغانی می‌باشد را در ولسوالی علینگار بتاریخ ۱۹ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز کرد. مراسم آغاز کار با حضور مسئولین محلی برگزار شد.

در مراسم افتتاحیه، قاری خیر محمد غازی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان اظهار داشت که این پروژه ظرف تقریباً سه ماه آینده تکمیل خواهد شد. وی افزود که این پل یک مسیر ارتباطی مهم است و با ساخت آن، ۱۳ قریه بزرگ و کوچک به جاده اصلی ولسوالی علینگار متصل خواهند شد و تقریباً ۱۵,۰۰۰ خانواده از آن برای رفت و آمد استفاده خواهند کرد. این پروژه توسط اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل می‌شود.

ساکنان منطقه از آغاز کار ساخت این پل ابراز خوشحالی کرده و از اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مسئولین محلی قدردانی نمودند و گفتند که با ساخت این پل مشکلات رفت و آمد مردم حل خواهد شد.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په سنچارک ولسوالۍ کې د یو استنادي دیوال د جوړولو چارې پیل کړې



د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس؛ محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د دې ولایت د سنچارک ولسوالۍ په او قاف کلان کلی کې د یو استنادي دیوال د جوړولو چارې د ۱۳۰ متره اوږدوالی او ۲.۵ متره لوړوالی سره د درې میلونه او یو سل او نه اتیا زره او درې سوه او دوولس اعشاریه پنځه (3،189،312.5) افغانیو په لګښت سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۰ نېټه پیل کړې.

د یاد استنادي دیوال د پرانستنې مراسمو کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس، د اقتصاد ریاست مسؤلینو، د کلیو او ښار جوړونې ریاست مسؤلینو او یو شمیر نورو سیمه ییزو مسؤلینو شتون درلود، چې د جوړولو چارې یې د یو ساختماني او سړک جوړونې شرکت له لوري په رسمي ډول سره پیل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د دې دیوال په جوړولو سره به د سیمې خلک د سېلابونو له احتمالي زیانونو څخه خوندي شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۷۴۰ خانواده کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (JCSSO) به امضا رسیده که تمویل‌کننده پروژه آن دفتر OCHA-AHF می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با حمایت موسسه مذکور برای ۷۴۰ خانواده مستحق در شهر بازارک مرکز آن ولایت پس از انجام سروی بتاریخ ۲۰ ربیع الاخر  سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان مبلغ ۲،۷۸۵ افغانی توزیع شد که در مجموع دو میلیون و شصت هزار و نه صد( ۲،۰۶۰،۹۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده تخصیص یافته بود.

قابل یادآوری است که روند توزیع این کمک‌ها در روزهای آینده در سایر ولسوالی‌های آن ولایت نیز اجرا خواهد شد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه برای ۲۰ خانواده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۲ ربیع الاخر  سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۰ خانواده آسیب‌دیده بر اثر آتش‌سوزی در مرکز و ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولین یک بوری ۵۰ کیلویی گندم، یک بوری ۲۵ کیلویی برنج، ۲۲ قالب صابون و یک تخته بستر چریکی توزیع گردید.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳ زلزله ځپلو او بېوزله کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د ولایت محترم مقام او کډوالو ریاست سره په همغږۍ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۱۳ زلزله ځپلو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۰ نېټه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۱ د خوراکي موادو کیټ، ۶ کیلو خرما، ۴ کارتنه بیسکویټ او ۱ تخته ترپال ووېشل شو.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو په ترلاسه کولو سره خوښي څرګنده کړه او د لغمان ولایت له پېښو سره دمبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې زیانمنو شویو کورنیو ته د ژر رسېدو په پار مننه وکړه.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۲۱ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د (ASIO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د WFP دفتر دی د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په فیروزنخچیر ولسوالۍ کې ۵۲۱ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۰ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۶.۲۵ کیلو دال نخود، ۴.۵۵ کیلو غوړی، ۰.۵ کیلو مالګه، ۱.۵ کیلو پلمپی او ۳ کیلو سوپرسریل ووېشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو د ترلاسه کولو په پار له اړوندو مسؤلینو څخه مننه او قدردانی وکړ.

## په پکتیکا ولایت چاودېدونکی توکی کشف او په خوندی توګه له منځه یوړل شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د هیلو ترسټ ماین پاکۍ نړیوالې مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاې مؤسسې سره د همغږۍ له مخې، د دې ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلی کې ۱۱ فیره بېلابېل ډوله چاودېدونکی توکی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۰ نېټه کشف او په خوندی توګه له منځه یوړل.
د دې عملیاتو په پایله کې ۱۱ فیره بېلابېل چاودېدونکی توکی چې د کارولو وړنه وو، مګر د سیمه ییزو اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی وو په خوندی توګه خنثی کړل شول او د سیمې خلک یې له احتمالی زیانونو څخه وژغورل شول.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۳۸ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د(JCSSO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکې یې OCHA-AHF ده، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په دره ولسوالۍ کې ۷۳۸ مستحقو کورنیو ته له سروې ورسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۱ نېټه د نغدی پیسو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲،۷۸۵ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه میلیونه او پنځه پنځوس زره او درې سوه او دېرش (۲،۰۵۵،۳۳۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې په راتلونکی کې به هم د پنجشیر ولایت په نورو ولسوالیو کې مستحقو کورنیو ته د مرستو دا لړۍ دوام ولری.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک کار ساخت یک دیوار استنادی را آغاز کرد




بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک کار ساخت یک دیوار استنادی را در قریهٔ رِندو از حوزهٔ بِکسمندِ ولسوالی چک آن ولایت بتاریخ ۲۰ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز کرد. این دیوار به طول ۲۰ متر و ارتفاع ۳ متر ساخته می‌شود.

برای ساخت این دیوار استنادی، مبلغ ۵۰،۰۰۰ افغانی از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث اختصاص یافته و در عوض کار، برای کارگران گندم توزیع خواهد شد.

قابل یادآوری است که این دیوار استنادی به منظور بازگشایی سرک عمومی حوزه بِکسمند که در اثر سیلاب‌های گذشته تخریب شده بود، ساخته می‌شود. با تکمیل این پروژه، سرک عمومی حوزه بِکسمند برای استفادهٔ باشندگان آماده می‌گردد و مشکلات رفت‌وآمد حدود ۲۲ قریه برطرف خواهد شد.

همچنان باشندگان حوزه بِکسمندِ ولسوالی چک از اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث ابراز سپاس‌گزاری نموده و افزودند که مسئولان ولایتی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث به‌موقع به مشکلات آنان رسیدگی کرده‌اند.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د تېلو د پمپ سټیشنونو اتحادیې په مالي ملاتړ، د وروستۍ زلزلې له امله د ۲۰ ټپیانو کورنیو ته د مسؤلینو په شتون کې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د ۱۸ ټپیانو کورنیو هرې یوې ته ۵،۰۰۰ افغانۍ، د یو ټپي کورنۍ ته ۱۴،۰۰۰ افغانۍ او د یو بل ټپي کورنۍ ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یوسل او څوارلس زره (۱۱۴،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس له مرسته کوونکو مسؤلینو څخه له زیانمنو شویو هېواد والو سره د مرستې کولو په پار مننه وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۲۶۳ خانواده کمک‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (AYSO)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۱ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق در مرحله دوم کمک‌رسانی، برای ۲۶۳ خانواده نیازمند در روستاهای مختلف ولسوالی چپه دره این ولایت بسته‌های مواد غذایی توزیع کرد.
در جریان این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین، ۵۰ کیلو آرد، ۵ لیتر روغن، ۴ کیلو دال و ۰،۵ کیلو نمک توزیع شد.
قابل یادآوری است که روند توزیع کمک‌ها برای این تعداد خانواده‌ها در ماه‌های آینده نیز ادامه خواهد داشت.



## په هلمند ولایت کې ناچاوده توکي خنثی کړل شول

د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د آریانا ماین پاکۍ مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په نادعلی ولسوالۍ کې، په بریالیتوب سره چاودېدونکي توکي د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه کشف او خنثی کړل.
د یادې مؤسسې MAP-Hotline2319 تخنیکي ټیم، د نادعلی ولسوالۍ په خوشهال کلي کې درې فیره د هاوان ۶۰ ملي مترۍ مرمۍ کشف او په یو خوندي ځای کې خنثی کړې.
د یادونې وړ ده، چې یاد ټیم له دې وړاندې هم یوه اندازه د پام وړ ناچاوده توکي کشف او په خوندي توګه له منځه وړي دي.
د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له سیمه ییزو اوسېدونکو غوښتنې، چې د هرډول مشکوکو او چاودېدونکو توکو د لیدو پرمهال دې ژر تر ژره یاد ریاست ته خبر ورکوي ترڅو یې د خنثی کولو لپاره اړین اقدامات ترسره شي.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۷۳۸ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی آمادگی با حوادث و مؤسسه تقویت عدالت و جامعه مدنی(JCSSO)، ریاست آمادگی مبارزه مبارزه حوادث ولایت پنجشیر با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۷۳۸ خانواده مستحق در ولسوالی حصه‌اول بعد از سروی بتاریخ ۲۲ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده مبلغ ۲۷۸۵ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۲,۰۵۵,۳۳۰(دو میلیون و پنجاو پنج‌هزارو سه صدو سی) افغانی برای این تعدا خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳۵ مستحقو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې




د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۱۳۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو غنم، ۲۵ کیلو وریجې او ۱۲ کلچې صابون ووېشل شو.

## د کونړ ولایت په دیوه ګل دره کې د زلزلې له امله د ۳۸۲ شهیدانو ورثه، ټپیانو او زیانمنو ته نغدی، خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشل شوې

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمېټې د احساس خیریه مؤسسې او یو خیېر کس په ملاتړ، د دې ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ په دیوه ګل دره کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۳۸۲ شهیدانو ورثه، ټپیانو او زیانمنو ته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه نغدی، خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د ټاکل شوې کمېټې د مسؤلینو په شتون کې، د احساس خیریه بنسټ له لوری ۱۹۰ کورنیو هرې یوې ته، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړی، یوه د پخلنځی بسته، یوه د ګاز ډبه او یو تخته کمپله او همدارنګه د یو خیېر کس لخوا ۱۹۲ کورنیو ته نغدی پیسې په داسې توګه ووېشل شوې، چې ۳۱ کورنیو هرې یوې ته ۵،۰۰۰ افغانۍ او ۶۱ نورو کورنیو هرې یوې ته ۴،۰۰۰ افغانۍ په پام کې نیول شوې وې.

په عین حال کې، د مرستو ترلاسه کوونکو له اړوندو مسؤلینو څخه خوښی څرګنده کړه او اسلامی امارت او مرسته کوونکو ته یې د خیر دعا وکړه.

## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۲ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ( AYSO ) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت د دانګام ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۱۴۲ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۲ نېټه د خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړی، ۴ کیلو دال، او ۰.۵ کیلو مالګه ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې یادې مرستې به له دې کورنیو سره تر راتلونکو دوو میاشتو پورې هم دوام لری.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۰۰ کارګرو ته د کار کولو په بدل کې نغدې پیسې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ورلډویژن مؤسسې ترمنځ دلاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په چهلګری او قیصار ولسوالیو کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه ۷۰۰ تنه کارګرو ته د ۱۶ ورځو کار کولو په بدل کې نغدی پیسې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرتن ته، ۵،۶۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کسانو لپاره درې میلیونه او نه سوه دوه شپېته زره (۳،۹۶۲،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په سروبي ولسوالۍ کې د ګبیونی دېوال د جوړولو چارې پیل کړې



د امیر المؤمنین حفظه الله د لارښوونې له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د سروبي ولسوالۍ په لوی کلی کې، د سېلابونو د زیانونو او خطرونو د مخنیوی په موخه د یو کبیونی دیوال د جوړولو چارې د ۷۲ متره اوږدوالی په درلودلو سره، چې تمویل کوونکې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ده د نه سوه او پنځه لس زره او شپږسوه اتیا (۹۱۵،۶۸۰) افغانیو په ارزښت د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه پیل کړې.

د یادې پروژې د پرانستې مراسم، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د محترم رئیس، د یادې ولسوالۍ د محترم ولسوال، د مرکزی ادارې د مسؤلینو، مخوروسپین ږیرو او سیمه ییزو اوسېدونکو په شتون کې ترسره شول، چې د جوړولو چارې یې د یو ساختمانی شرکت لخوا پیل شوې.

د یادونې وړه ده، چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د سیمې وګړی په زیاته کچه د طبیعی پېښو له خطرونو څخه خوندی شی او د سیمې خلکو دا کړنه وستایله او د دې نظام د ثبات او بقا لپاره یې د خیر دعا وکړه.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۰۹۸ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري او د اکشن اېډ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د دې ولایت په ګوسفندی ولسوالۍ کې ۱۰۹۸ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه په دوو پړاوونو کې نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، ۸۳۷ کورنیو هرې یوې ته ۱۰،۰۰۵ افغانۍ او ۲۶۱ کورنیو هرې یوې کورنۍ ته ۱۲،۰۰۵ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یوولس میلیونه او پنځه سوه او اوه زره او څلور سوه او نوی ( ۱۱،۵۰۷،۴۹۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۳۰۸ مستحقو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري او د ASIO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام WFP دی، د دې ولایت په دشت ارچی ولسوالۍ کې ۱۳۰۸ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه د خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۲۵ کیلویی اوړه، ۵ لیتره غوړی، ۶.۲ کیلو دال نخود، ۰.۵ کیلو مالګه، ۳ کیلو سوپر سیریل او ۳۰ پاکټه پلمپی ( خوراکی مواد ) ووېشل شول.

د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست مسؤلینو له اړوندو بنسټونو څخه مننه او قدردانی وکړ او همداراز یې له هغوی څخه په راتلونکی کې د ورته مرستو د کولو هیله څرګنده کړه.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبا رزې آمادگۍ ریاست ۲۵ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري او د عدالت د پیاوړتیاو او مدنی ټولنې (JCSSO) مؤسسې سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکې یې (OCHA-AHF) دفتر دی، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په حصه اول ولسوالۍ او مرکز بازارک کې ۲۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه د نغدی پیسو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲،۷۸۵ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره نه شپېته زره او شپږ سوه او پنځه ویشت (۶۹،۶۲۵) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې یاد شمېر کورنیو ته د نغدی مرستو لومړی پړا پای ته ورسېد او دوه یم پړاو به یې په راتلونکې میاشت کې پیل شي.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲۰ کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې




د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د مرکز قلعه نو اړوند، د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له امله ۳۲۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۴ کیلو بوره او همدارنګه ۴ کورنیو ته، چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی وو په پورتنیو مرستو سربېره هرې کورنۍ ته یو باب خېمه او ۵ تختې کمپلې ووېشل شوې.

## د بدخشان ولایت په تشکان ولسوالۍ کې د څښلو وړ اوبو دوو پروژو د جوړولو چارې پیل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکټېډ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې ادارې د لوی رئیس؛ محترم الحاج ملانورالدین ترابی د لارښوونې له مخې، د دې ولایت د تشکان ولسوالۍ په دشت آغه او ملګانی کلیو کې د څښلو وړ اوبو دوو پروژو د جوړولو چارې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه له سروې پیل کړې.

یادې پروژې، په ملګانی کلی کې د ۶،۲۳۰ متره پایپ په واسطه د یو میلیون او اوه سوه او دری څلویښت زره (۱،۷۴۳،۰۰۰) افغانیو په لګښت او په دشت آغه کلی کې د ۲،۳۶۹ متره پایپ، ۳۷،۰۰ لیټره ظرفیت لرونکو دوو زخیرو او ۱۷ شیر دهنو په درلودلو سره د یو میلیون او اته سوه او اته شپېته زره (۱،۸۶۸،۰۰۰) افغانیو په لګښت سره پیل شوې.

## د فاریاب ولایت په خواجه سبز پوش ولسوالۍ کې چاودېدونکي توکي کشف او خنثی کړل شوي




د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اومر ماین پاکۍ مؤسسې د ۰۵ (OMAR-QRT-05) چټک ځوابوېینې ټیم سره په همغږۍ، د دې ولایت د خواجه سبزپوش ولسوالۍ په قره شیخی کلي کې، ۱ عدد ساده پټاقۍ، ۱.۵ متره فلیته ثانیه سوز او ۷۵ ګرامه باروت، چې د سیمه ییزو اوسېدونکو له لوری د ځمکې کرلو پرمهال لیدل شوی وو، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه کشف او په خوندی توګه له منځه یوړل شول.

د یادونې وړ ده، چې د یادو عملیاتو په ترسره کولو سره د سیمې اوسېدونکي د چاودېدونکو توکو له احتمالي خطرونو څخه خوندي شول.

# د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۱۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۳ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، یو د خوراکی توکو کیټ، ۶ کیلو خرما، ۴ کارتنه بیسکویټ او ۱ تخته ترپال ووېشل شو.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د تر لاسه کولو په پار خوښی څرکنده کړه او د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه یې زیانمنو شویو کورنیو ته د ژر رسېدنې په موخه مننه وکړه.

## عامه پیغامونه :

5. تیز رفتاری د مرګ سبب ګرځی
6. پر یخ شوی سړک باندې په ډېر احتیاط تګ کوئ
7. د باران او واورې اورېدو په وخت کې په ډېر احتیاط تګ کوئ
8. د موټر چلولو په وخت کې د ترافیکی اصولو په پام کې نه نیول ډېر خطرونه رامنځته کوی